PROPERTY OF ACKU

اراده DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۸۰

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۸۰ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۵۵ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د چنګابښ ۱۸ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شعبان المعظم ۸ مه د ۲۰۱۱ د جولای ۹ مه

کاناډا له افغانستانه خپل پوځونه وایستل

کاناډايي ځواکونو د چنګابښ پر ۱۶ مه، په رسمي توګه په افغانستان کې خپل پوځي ماموريت پای ته ورساوه، خو شاو خوا زر تنه روزونکي به يې د افغان ځواکونو د روزنې په موخه پاتې شي.

په دې اړه د کندهار ولايت په هوايي ډګر کې يو لړ مراسم جوړ شوي وو، چې د کندهار ولايت پر چارواکو سربېره، په کې د کاناډايي ځواکونو قومندان جنرال ډي جي ميلنر او په سوېلي حوزه کې د ايساف ځواکونو قومندان **۳مخ**

ايا نوې کمېټه به د ټاکنيزو پربکړو مسئلې او په دې اړوند روان بحران ته د پای ټکی کېږدي؟



د افغانستان د ولسمشرۍ دفتر اعلان کړی چې د پارلماني ټاکنو پر سر د درې گونو قواوو ترمنځ د اختلافونو د حل لپاره يې يوه کاري کمېټه جوړه کړې ده.

د ولسمشرۍ له مانې په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي دي چې دغه کمېسيون بايد د جمعې تر مازيګره د دغې ستونزې د هواري په تړاو خپل مشخص وړانديز ولسمشرۍ ته وسپاري.

ټاکل شوې چې جوړ شوی کمېسيون به د درې گونو قواوو ترمنځ د اختلاف لرې کولو په موخه د انتخاباتو د کمېسيون له لوري د ولسمشرۍ دفتر ته استول شوې شپږ ماده ييزه طرحه، وارزوي.

له هغه راوروسته چې د ولسمشر حامد کرزي په لارښوونه د ټاکنيزو شکايتونو د ارزونې لپاره جوړې شوې ځانګړې محکمې د ولسي جرګې ۶۲ هغه وکيلان چې د انتخاباتو د کمېسيون له لوري بريالي اعلان شوي وو رد کړل، د ولسي جرګې، ولسمشر حامد کرزي او ستړي محکمې ترمنځ د دغې ځانګړې محکمې د قانونيت په اړه ناندرۍ راپورته شوي دي.

پر همدې مهال يو شمېر معترض کانديدان چې د ټاکنيزو شکايتونو د ارزونې ځانګړې محکمې له لورې بريالي اعلان شوي، په کابل کې يې په يوه ناسته کې خبرداری ورکړ چې هېڅوک د شکايتونو د څېړلو لپاره د جوړې شوې ځانګړې محکمې د پربکړې د بدلولو **۳مخ**

پر افغانستان د پاکستان د بريدونو د پای ته رسولو په موخه پاکستان ته پلاوی تللی

په کابل کې چارواکي وايي د افغان امنيتي ځواکونو او ناټو يو ګډ پلاوی له پاکستاني چارواکو سره د خبرو لپاره اسلام اباد ته ورغلی دی.

دوی د افغانستان په ختيځ کې پولې ته پر ورځيرمه سيمو د پاکستاني پوځيانو له لورې د توغندیو د بريدونو له اړخه رامنځ ته شوی اختلاف د کيدونکو خبرو مهم ټکی بولي.

د دې په څنګ کې پر پوله د اورپکو د خوځښتونو مخنيوی او په دې برخه کې د درې اړخيزې همکارۍ پراختيا هم د خبرو مهمه برخه يادېږي.

د افغانستان په ختيځ کې پولې ته پر ورځيرمه سيمو په وروستۍ څه باندې يوه مياشت کې د پاکستان له خاورې په پرله پسې توګه د توغندیو د ويشتل کيدو ادعا په کابل کې د چارواکو لپاره د يوې حساسې سياسي موضوع رنګ اخيستی دی.

په دې کې پر چارواکو لويه ولسي نيوکه د پريکنده غبرګون په ښودو کې پاتې راتلل يادېږي. خو کابل توپ ته د توپ د ځواب پر ځای خبرې او تفاهم له دې اړخه د پيښې لانجې د غوڅولو اغيزمنه لار بولي.



پر همدې موضوع د خبرو لپاره اسلام اباد ته د افغانستان د درې گونو امنيتي ارګانونو له استازو د جوړ پلاوي استول او په دغه پلاوي کې د ناټو ايساف د استازو موجوديت د همدغه دريځ په تړاو د کابل د هڅو په لړ کې يو بل تازه ګام دی.

د افغانستان د کورنيو چارو وزارت وايي د پاکستان له خاورې د افغانستان پر ختيځو سرحدي سيمو د توغندیو د ويشتل کيدو روانه لانجه په اسلام اباد کې د کيدونکو خبرو د سر سر ټکی دی.

له شک پرته به د افغانستان پر خاوره **۳مخ**



تداوم حملات پاکستان بر خاک افغانستان و سکوت معنادار جامعهٔ جهانی ۲

ولې په ټول هېواد کې د بيارغونې کارونه پر ټپه ولاړ دي؟

د پکتيا اوسېدونکي وايي، چې په ولسي جرګه کې ددوی استازو نه يوازې داچې له دوی سره په بيارغونه کې مرسته نه ده کړې، بلکې د دوی په ټاکنه په دې ولايت کې روانې پروژې هم ټرل شوې دي.

د دې ولايت ځينو اوسېدونکو وويل، چې وکيلانو ورته يوهغه کارهم نه دی کړی، چې د کمپاين پر مهال يې ورسره ژمنه کړې وه.

د پکتيا ولايت د ځاځي اريوب ولسوالۍ د امر خپلو کلي اوسېدونکي اقبال ځلاند وويل، چې هروکيل د کانديدۍ پروخت ژمنې کړې دي، خو سر ته يې نه دي رسولي.

ده دا هم وويل، چې د دوی د بې اتفاقۍ له امله نن د پکتيا د بيارغونې کارونه پر ټپه ولاړ دي.

ده وويل: ((پروژې ځکه ولاړې دي، چې دوی خپله برخه په کې غواړي، دوی خو په کمپاينونو کې **۳مخ**

له افغانستانه د پوځونو د ايستلو په اړه اوباما له نوې ننګونې سره مخ دی

د کانګرس د خلکو د استازو په جرګه کې ډيموکراټانو د ۲۰۱۲ مالي کال د دفاعي بودجې په لايحه کې د يولړ بدلونونو غوښتنه وکړه، چې له مخې يې د محاربو ځواکونو په لګښتونو کې کموالی راځي او په نتيجه کې له افغانستانه د امريکايي سرتېرو د ايستلو بهير نور هم ګړندی کېږي.



سپينې مانۍ د ۲۰۱۲ کال په مالي بودجه کې د دفاعي چارو لپاره د ۶۴۹ ميليارده ډالرو غوښتنه کړې ده.

ډيموکراټ وکيل جېرولډ نادلر وويل، د افغانستان د جګړې بنسټ له اصله غلط دی او د امريکا له ملي امنيت سره مرسته نشي کولای. ده وويل، چې امريکايي ځواکونه بايد ځومره ژر چې امکان ولري له دې هېواده ووځي.

يوبل وکيل جېمز مک ګورن وويل، چې د امريکا روان اقتصادي حالت ته په پام سره د افغانستان د جګړې په برخه کې د ولسمشر بارک اوباما ستراتيژي اغېزمنه نه وه.

نوموړي زياته کړه، په داسې حال کې چې خلکو ته پلمې کوو، چې د سړکونو، پلونو او ښوونځيو د جوړولو لپاره پيسې نه لرو، مور په افغانستان کې د هغه حکومت لپاره چې پراخ فساد په کې دی، د پيسو د ماشين حيثيت غوره کړی.

ولسمشر بارک اوباما نژدې دوه اونۍ مخکې د روان کال ترپايه له افغانستانه د ځلس زره او د راتلونکي کال له اوړي وروسته د نورو ۲۳ زره امريکايي سرتېرو د ايستلو پلان اعلان کړ.

د اوباما د پلان له مخې پاتې ۶۶ زره امريکايي سرتېري به په ۲۰۱۴ کال کې، افغان ځواکونو ته د هېواد د امنيتي مسوولیتونو له سپارلو وروسته په تدريجي ډول له افغانستانه وايستل شي.

خو د اوباما پربکړې هم د جمهوري **۳مخ**

د لوی او ښېونکي خدای ﷻ په نامه

سر مقاله

پاکستان ولې پر افغانستان خپلو پوځي بريدونو ته دوام ورکوي؟

له څو اونيو راهيسې پاکستان د افغانستان پر سرحدي سيمو باندې د بريدونو او توپونو بريدونه پيل کړي او تر دې دمه يې تر پنځو سوو زيات توغوندي او راکټي بريدونه کړي، چې په ترڅ کې يې په سلګونو افغانانو ته مرګ ژوبله اوړېدلې ده. دا بريدونه نه يوازې پای ته نه دي رسېدلي، بلکې لا هم دوام لري. په همدې هکله تېره اونۍ د افغانستان ولسي جرګې هم سخت او توند غبرګون ښکاره کړ او ويې ويل، چې بايد له پاکستان سره ټولې ډيپلوماتيکې اړيکې پرې شي. له همدې سره په خوا کې د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې هم د پاکستان پر وړاندې د پاڅون احساسات راژوندي او لا يونونه پر لار واچول شول. بلخوا د تېرې اونۍ په پای کې ولسمشر کرزي هم د يوې وينا په ترڅ په ډېره نرمه لهجه وويل، چې مور به هېڅکله هم پر پاکستان بريد ونه کړو، مانا دا چې مور نه غواړو چې په مقابل پوځي بريد کې د پاکستان د عامو وګړو ژوند واخلو، مور بايد دا مسئله د ډيپلوماتيکو هڅو له لارې هواره کړو. په همدې هکله افغان دولت پاکستان ته يو پلاوی هم لېږلی ترڅو دا مسئله د ډيپلوماتيکو هڅو له لارې هواره او د پاکستان له لوري د افغانستان پر خاوره بريدونه ته د پای ټکی کېښوول شي. بل اړخ ته پاکستاني چارواکو ويلي، چې دوی دا بريدونه پر افغانستان د دې لپاره پيل کړي، چې افغانستان څه موده پخوا د پاکستان پر خاوره توغوندي ورولي وو او دوی يې اوس بدل اخلي. په هر حال دا چې اصلي موضوع څه ده او ولې دا بريدونه دوام لري او په مقابل کې يې افغان دولت ولې چوپه خوله او يا ډېر سور عکس العمل نه ښيي، دا پخپله يوه پوښتنه ده، چې پوښتنې او شکونه رامنځ ته کوي. زمور په باور د پاکستان د دې بريدونو تر شا نه يوازې ډېرې موخې وي، خو تر ټولو مهمه يې داده، چې په پلان کې ده، د افغانستان د کونړ پر سيند باندې يو د اوبو بند جوړ شي، چې په دې سره پر پاکستان د افغانستان اوبه بنديږي، نو په دې سره پاکستان غواړي، چې د کونړ او د کونړ د سيند د مسير شاوخوا ناامنه کړي او نړيوالو ته دا وښيي، چې په دې سيمه کې امنيت نشته او د اوبو د بند جوړېدل او ساتنه يې يو ناشونی کار دی. همدشان بل دليل يې دا کېدای شي، چې ولې امريکا په دې هکله کوم عکس العمل نه ښيي؟ دا هم د دې څرګندويي کوي، چې افغانانو ته دا وښيي، چې دوی په يوازې سر د سرحدونو ساتنه نه شي کولی، نو له دې امله د امريکا پوځي اډو لپاره اړتيا اړينه ده، ځکه د پاکستان د بريدونو پر وړاندې امريکا حتا له شنه څراغه کار اخيستی او په دې برخه کې حتا بې خبري هم ښوولې ده. نو په دې توګه له دې بريدونو څخه هم پاکستان خپلې لويې ګټې اخلي او هم امريکا او په ټکس کې يې بې وسه او بې ازاره ولسي افغانان قرباني کېږي.

تداوم حملات پاکستان برخاک افغانستان و سکوت معنادار جامعۀ جهانی

اسرار جلالخیل

حملات توپخانه یی پاکستان بر خاک افغانستان همچنان ادامه دارد؛ دولتمردان افغان و جامعۀ جهانی تقریبا همه بدون اینکه گام های عملی یی در این راستا بردارند، تنها نظاره گر این مداخلات آشکار نظامی هستند.

اینکه آخر با پاکستان از چه رویه یی کار گرفته شود و چه راهکارهایی روی دست بیافتد، تا پاکستان مجبور به توقف حملات شود، صدیق زاده نیلی، نمایندۀ مردم دایکندی در ولسی جرگه با محکوم کردن حملات راکتی پاکستان می گوید که باید در پاسخ به حملات بی شرمانۀ پاکستان، روابط دیپلوماتیک وسیاسی با این کشور به حالت تعلیق درآید.

شکیبا هاشمی نمایندۀ دیگر ولسی جرگه نیز، بر سخنان نیلی تاکید می کند و می افزاید: ((باید دروازه های سفارت پاکستان در کابل بسته و اقدامات باالمثل انجام شود)).

غلام حسین ناصری، نمایندۀ مردم میدان وردک در مجلس نیز، با انتقاد شدید از سکوت حکومت در قبال حملات راکتی پاکستان می گوید: ((هر افغان مسوولیت دارد که به خاطر تجاوز ایستاده گی کند و من به عنوان یک فرد این وطن حاضر هستم که تفنگ به دست گیرم و پاسخ دشمن خود را بدهم، تا زمانی که یک قطره خون در تنم باشد)).

باید گفت، از حدود یک ماه بدینسو، بیش از ۷۰۰ توپ توسط نیروهای پاکستان بر ولایات کنر، ننگرهار، خوست و پکتیا شلیک گردیده و درنتیجه، ۵۰ تن کشته، ده ها تن مجروح و صدها خانواده مجبور به ترک مناطق خود شده اند.

با وجود اعتراض های گسترده افغانستان در مورد حملات راکتی، مقامات پاکستانی از چنین حملاتی ابراز بی اطلاعی کرده اند.

آصف علی زرداری، رییس جمهوری پاکستان اخیرا در دیدار با حامد کرزی، همتای افغانی خود گفت که از وقوع این گونه حملات آگاهی ندارد و تاکید کرد که اگر حملاتی صورت گرفته باشد، نظامیان پاکستانی در آن دخیل نبوده اند.

هفتۀ گذشته ولسی جرگه هشدار داد، در صورتی که حملات راکتی از داخل پاکستان به داخل خاک افغانستان متوقف نشود، این کشور به "اقدامات متقابل نظامی" دست خواهد زد.

اما این اقدامات چه شد، تا کنون هیچ واکنش عملی متقابل به نظر نمی رسد.

در حالی که اعضای ولسی جرگه با صدور اعلامیه یی، این حملات را به شدت محکوم کرده و خواستار توقف فوری آن شدند.

در توافق مذکور از سازمان ملل متحد، سازمان کنفرانس های اسلامی و دیگر نهادهای بین المللی و جامعۀ جهانی خواسته شده است، تا از راه دیپلوماتیک حملات راکتی پاکستان را توقف داده و به بررسی این حملات بپردازند.

اما به شمول سازمان ملل متحد و جامعۀ جهانی که در افغانستان حضور پررنگ دارند، همه نهادهای بین المللی در این راستا سکوت معناداری اختیار کرده اند.

با توجه به این مسأله، شماری از تحلیلگران می گویند، جامعۀ جهانی در تداوم حملات توپخانۀ پاکستان بر خاک افغانستان، دست دارند و در آستانۀ روند انتقال امنیت، می خواهند حضور خود را حفظ نمایند.

صدیق زاده نیلی می گوید: ((نیروهای خارجی و بین المللی آنچه را در قبال افغانستان متعهد شده بودند که از حریم افغانستان دفاع می کنند، اما آنان سکوت اختیار کرده و هیچ عکس العملی را انجام نمی دهند)).

این تحلیلگران به این باور اند که سکوت و خاموشی جامعۀ جهانی در خصوص حملات توپخانۀ پاکستان بر خاک افغانستان، می تواند دلایل زیادی داشته باشد.

وحید مژده تحلیلگر مسایل سیاسی می گوید که جامعۀ جهانی می خواهد با استفاده از حملات پاکستان، به نوعی زمینۀ پایگاه های نظامی امریکا و موجودیت نیروهای خارجی رامساعد بسازد.

وی علاوه می کند: "این حملات نشان می دهد که تفاهمی میان پاکستان و امریکا صورت گرفته و می خواهند یکنوع ذهنیت سازی کنند و برای مردم افغانستان بفهمانند: در حالی که نیروهای خارجی در افغانستان وجود دارند، پاکستان حمله می کند؛ اما اگر این نیروها نباشند، پاکستان، افغانستان را اشغال خواهد کرد".

این درحالی است که قرار است، مرحلۀ اول پروسۀ انتقال امنیت از نیروهای خارجی به نیروهای افغان، در ۲۳ سرطان همزمان در هفت ولایت شروع شود و به تاریخ ۳۰ سرطان پایان یابد.

روند انتقال مسوولیت ها در کابل به استثنای ولسوالی سروبی، ولایات پنجشیر و بامیان و شهرهای هرات، لشکرگاه، مهترلام و مزارشریف آغاز می گردد و در نهایت به سطح کشور تا سال ۲۰۱۴ میلادی عملی می گردد.

مژده به این باور است که اگراین مسایل از طریق سیاسی حل نشود، باعث مشکلات امنیتی و اقتصادی بین افغانستان و پاکستان خواهد شد.

این تحلیلگر با اشاره به مسوولیت های جامعۀ جهانی در قبال دفاع از تمامیت ارضی افغانستان گفت: "در کنفرانس بین المللی بُن، در خصوص دفاع از حریم هوایی افغانستان، پیشنهادهایی صورت گرفت و یک سلسله وظایف از طرف جامعۀ جهانی قبول گردید، اما قدرتی وجود ندارد که آنها را به این کار وادار بسازد".

به نظروی، دفاع از حریم افغانستان مسوولیت اخلاقی جامعۀ جهانی می باشد.

اما غلام جیلانی ځواک، رییس مرکز تحقیقی مشورتی افغان می گوید: بر اساس تعهداتی که در کنفرانس بین المللی بُن در سال ۲۰۰۱ میلادی در قبال افغانستان صورت گرفته، جامعۀ جهانی مکلف است که ازحریم هوایی افغانستان دفاع نماید.

وی نیز به این نظراست که سکوت و خاموشی جامعۀ جهانی، نشان دهندۀ دست داشتن آنها در حملات پاکستان بر افغانستان است.

ځواک می افزاید: "این خاموشی، چیزی را که نشان می دهد، این است که جامعۀ جهانی می خواهد بگوید که بابیرون شدن شان از افغانستان، زمینۀ مداخلۀ کشورهای منطقه بر افغانستان مساعد خواهد شد".

قابل یادآوری است، وزیر دفاع پاکستان، چندی قبل در گفتگو با بی بی سی گفت که پاکستان در حملات بر افغانستان دخیل نیست.

ص۳

تداوم حملات پاکستان...

اما چندی پیش وزیران دفاع و امور داخله، در اجلاس ولسی جرگه گفتند که بعد از حملات پاکستان برخاک افغانستان، احضارات درجه یک اتخاذ شده و سلاح و مهمات را به مناطق سرحدی انتقال داده اند.

دراین مورد اعلامیه یی ازسوی ولسی جرگه نیز نشر شده که در بخشی از آن، حملات پاکستان به شدت تقبیح گردیده و آمده است که ولسی جرگه، از هرنوع واکنش حکومت افغانستان در این مورد حمایت می کند.

اما وزارت دفاع ملی می گوید، هر تصمیمی را که سیاستمداران کشور، در مورد جواب متقابل به حملات پاکستان اتخاذ کنند، آنها حاضر اند، آنرا عملی نمایند.

با این حال احمد سعیدی یکتن از تحلیلگران امور سیاسی می گوید که در عقب این حملات، حرف های بزرگتری وجود دارد که پاکستان می خواهد به همان اهدافی که دارد، خود را برساند.

وی علاوه کرد: "پاکستان می خواهد با این حملات، برای پیاده نظام خود، جای خالی کند و تندروان را در مناطق سرحدی کنر و پاکستان جابجا نماید".

سعیدی نیز، به این نظر است که شاید درعقب این حملات، دست جامعهٔ جهانی بخصوص امریکا دخیل باشد، تا حضور درازمدت نیروهای خارجی را ثابت ساخته و نشان بدهد که افغانها نمی توانند، بدون نیروهای خارجی، امنیت کشور شان را تامین نمایند.

اما نیروهای آیساف می گویند که آنها تحت منشور و صلاحیت ملل متحد در افغانستان مصروف فعالیت بوده و ماموریت آنها نیز، محدود به خاک و سرحدات افغانستان است.

دفتر مطبوعاتی آیساف در کابل، در این مورد می گوید، این یک موضوع دیپلوماتیک میان افغانستان و پاکستان است.

منبع راجع به حملات و پرتاب راکت از سوی پاکستان بر خاک افغانستان، در امتداد سرحدات می گوید که آنها در این مورد معلومات بسیار کم دارند، اما آنها از چنین گزارش ها و نگرانی های دولت افغانستان در این مورد، آگاهی دارند.

منبع می افزاید: "ما نگرانی های همکاران افغان خود را درک می کنیم، اما در نهایت امر، این موضوع باید توسط دولت های پاکستان و افغانستان حل گردد".

این اظهارات در حالی انعکاس یافته که جوزف بلاتس سخنگوی نظامی آیساف در کابل، به تاریخ ۶ سرطان به رسانه ها گفته بود، در ساحاتی از افغانستان که حملات راکتی صورت گرفته، نیروهای آیساف وجود ندارند که گزارش عملیات دقیق از وقوع این رویدادها را ارایه کنند.

سخنگوی آیساف در پاسخ به سوالی که اگر روشن شود که این حملات، از سوی نیروهای پاکستانی صورت گرفته است، واکنش آیساف چه خواهد بود؟ گفت: "ما نمی خواهیم قبل از وقت تخمین بزنیم که این حملات راکتی، از سوی نیروهای پاکستانی صورت گرفته و در این رابطه یک تیم ارزیابی مشترک تعیین شده؛ تا جریان را بررسی کنند."

حملات توپچی نیروهای پاکستان بر خاک افغانستان، پس از آن آغاز شد که قوماندان قوای سرحدی افغان در ننگرهار گفت که هلیکوپتر آیساف، یک پوستهٔ امنیتی پاکستان در مومند ایجنسی را هدف قرار داده و از بین بُرد.

بعداً پاکستان، سفرای افغانستان و امریکا را در اسلام آباد احضار کرد و به خاطر از بین بردن پوستهٔ امنیتی در مومند ایجنسی، اعتراض نمود.

در نهایت موقف رییس جمهور کرزی در مورد این حملات، بازهم همان موقف مصلحت جویانه گذشته است. رییس جمهور حامد کرزی در کنفرانس خبری مشترکی که روز سه شنبهٔ گذشته با دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا در قصر ریاست جمهوری گفت که افغانستان، موقف و تشویش خود را نسبت به حملات بر افغانستان، با رییس جمهور پاکستان در تهران و سفیر پاکستان در کابل اظهار داشته است.

وی افزود که حملات برمناطق سرحدی افغانستان، باعث تلفات مردم شده؛ اما اینکه افغانستان چرا دست به عمل متقابل نمی زند؟ دلیل دارد و آن اینکه اگر افغانستان حمله کند، باعث قتل و خساره مند شدن مردم سرحدی پاکستان می شود.

کرزی علاوه کرد: "ما نمی خواهیم مردم عام پاکستان و خانواده ها و اطفال آنها صدمه ببینند و آنها را به چشم پسران خود می بینیم و ما منحیث انسان و همسایه نمی خواهیم، حمله کنیم".

رییس جمهور کرزی در پاسخ به این پرسش که آیا اطفال و زنان افغان در حملهٔ پاکستان کشته نمی شوند که افغانستان نمی خواهد جواب متقابل بدهد؟ گفت: "اگر هرکس به صلح و طفل مردم فکر می کرد، باعث این بدبختی ها نمی شد، اگر کسی فکر جنگ را دارد، ما در فکر صلح هستیم و امید است که پاکستان برای تداوم حملات تشویق نشود."

گفتنی است که قبلاً مردم در ولایات کابل، فاریاب، ننگرهار و برخی ولایات دیگر، و روز سه شنبهٔ گذشته در ولایت کنر، در اعتراض به حملات پاکستان بر خاک افغانستان، مظاهره نمودند و خواهان قطع فوری آن شدند.

کاناډا له افغانستانه خپل ...

جنرال جې ایل ټهري ګډون کړی و.

د کاناډايي ځواکونو قومندان جنرال ډي جي ميلينر Brigadier General D.J. Miliner په دې مراسمو کې وويل، چې تر شپږ کلن پوځي ماموريت وروسته کاناډيان په رسمي توګه له افغانستان څخه خپل وتل اعلانوي.

هغه زياته کړه، په کندهار کې د کاناډايي ځواکونو دنده د وسلوالو مخالفينو قومانده او د واک د شبکې له منځه وړل وو، چې په دې موخه يې له افغان ځواکونو سره په ګډه ګڼ شمېر عمليات تر سره کړي دي.

د نومورې په وينا، له ۲۰۱۰ زېږدي کال را په دې خوا کاناډايي ځواکونو خپل ډېر پام د کندهار درو ولسوالیو ډنډ، پنجوايي او دامان ته واړاوه او هلته يې د بيارغونې ګڼ کارونه تر سره کړل.

ميلينر وايي، چې کاناډايانو د خپل پوځي ماموريت پر مهال ډېره هڅه کړې، چې افغان حکومت او ځواکونه يې له خپلو خلکو سره نژدې کړي.

په سويلي حوزه کې د ايساف ځواکونو قومندان جنرال جېمز ټهري د کاناډايي ځواکونو د هغو قربانيو ستاينه وکړه، چې د خپل پوځي ماموريت پر مهال يې په کندهار کې ورکړې دي.

هغه وويل، د کاناډايي ځواکونو پر ځای د يو شمېر جنګي سيمو امنيت امريکايي او افغان ځواکونو ته سپارل شوی دی.

کاناډا د ناټو لومړی غړی هېواد دی، چې په افغانستان کې د خپلو پوځيانو ماموريت پای ته رسوي.

يادشوي هېواد په افغانستان کې شاوخوا ۲۵۰۰ سرتېري لرل، چې ډېر يې په کندهار کې مېشت وو او د پوځي ماموريت پر مهال يې تر ۱۵۰ زياتو سرتېرو خپل ژوند له لاسه ورکړی.

دغو ځواکونو تر دې مهاله پر خپل ماموريت ۱۱ ميليارډه ډالر لګولي، چې په کندهار ولايت کې يې د امنيت د ټينګښت تر څنګ د بيارغونې په برخه کې کار کړی، چې يوه ببلګه يې د ۵۰ ميليونه ډالرو په ارزښت د دهلې بند بيارغونه ده.

څو ورځې وړاندې په کابل کې د کاناډا سفير رسنيو ته وويل، چې د پوځي ماموريت د پای ته رسېدو وروسته به د افغان ځواکونو د روزنې په برخه کې د کاناډ هېواد مرستې دوام ولري.

د هغه په خبره، کاناډا به شاوخوا زر تنه روزونکي د افغان ځواکونو د روزنې په موخه دغلته پر دندو وګومارې.

امريکا هېواد هم پرېکړه کړې، چې د ۲۰۱۲ کال تر پايه به له هېواد څخه خپل ۳۳ زره سرتېري باسي، چې په دې توګه د ناټو غړيو يو شمېر هېوادونو هم د ورته ګام اخيستو اعلان کړی دی.

له افغانستانه د پوځونو د ایستلو...

غوښتونکو او هم د ډيموکراټانو غوسه راپارولې. په داسې حال کې چې د امريکا په بودجه کې کسر ۱،۴ تريليونه ډالرو او د امريکا کورنۍ پورونه ۱۴،۳ تريليونه ته رسېدلي جمهوري غوښتونکي او ډيموکراټ وکيلان دواړه د سرتېرو په ايستلو کې د نور سرعت غوښتنه کوي.

دوی همداراز پر حکومت فشار راوړي، چې د اقتصادي بحران د حل لپاره بايد په خپلو مصارفو کې کموالی راولي.

ایا نوې کمیټه به د تاکنیزو پرېکړو ...

حق نه لري.

دوی دغه راز د يوې اعلاميې په خپرولو سره له نړيوالې ټولنې غوښتي چې د دوی په اړه د ځانګړې محکمې له شوې پرېکړې ملاتړ وکړي.

د دغې ځانګړې محکمې د پرېکړې له مخې د اوسنۍ ولسي جرګې ۶۲ وکيلان رد صلاحيت شوي او ټيک همدومره نور دغې محکمې بريالي اعلان کړي دي.

پر افغانستان د پاکستان د بريدونو ...

د پاکستان له لورې د توغندیو د ويشتل کيدو موضوع د کيدونکو خبرو په سر کې وي. دا د افغان حکومت لپاره ډېره مهمه موضوع ده. مورې وړاندې هم څو ځله ورته غوښتنه کړې او اوس مو هم ټينګار دا دی چې دغه بريدونه بايد سمدستي ودرول شي. د دې تر څنګه به د پولې د کنټرول لپاره د افغانستان، پاکستان او ناټو تر منځه د درې اوخيزې همکارۍ پراختيا هم د خبرو مهمه برخه وي.))

تر دې وړاندې ولسمشر کرزی پر دغه لانجه څو ځله پخپله هم د ټېلېفون له لارې له پاکستاني مشرانو سره غږېدلی خو ظاهرا داسې برېښي چې ستونزه لا دوام لري.

د افغان امنيتي ادارو له لورې د ورکړل شويو رپوټونو له مخې په تېره څه باندې يوه مياشت کې د کونړ او ننګرهار ولايت په سرحدي سيمو له ۵۰۰ زيات توغندي ويشتل شوي چې په دې کې د ښځو او ماشومانو په ګډون شاوخوا ۵۰ ملکي افغانان وژل شوي.

ولې په ټول هېواد کې د بيارغونې...

دپرې پيسې لګولې دي.))

د ولسي جرګې د وکيلانو د تېرې شپږمياشتنۍ دورې په اړه د پکتيا ولايت د ځمکنيو ولسوالۍ د مدخېلو د حليم کلي اوسېدونکي حاجي مامور وويل چې کله به هم په دې ډول له خپلو وکيلانو خوښ نه شي. نومورې په مانيجنه لهجه وويل: ((نه مو وکيلان کار کوي او نه قوماندانان.)) د نومورې په خبره، دوی يوه ژمنه هم سرته نه ده رسولې، ځکه چې دوی په خپلو جنجالونو اخته دي.

هغه وويل: ((ترڅو چې مورې ته راخلاصيږي د دوی دوره به سر ته ورسيږي.)) ده وويل، چې له شهر نوځخه تر جانيخېلو پورې د سړک کار، چې روان و، پارلمان ته د دوی په ورتګ پر تپه ودرېده، کېدای شي دوی به برخه په کې غواړي. په ولسي جرګه کې د پکتيا دوکيلانو په اړه يو بل تند نوم نه ځرګندولو په شرط پژواک ته وويل چې وکيلان يوازې د خپلو ساختماني شرکتونود پرمختګ اوله بهر نيوموسسو ځخه دقراردادونو اخيستلو لپاره کار کوي. خو په ولسي جرګه کې د پکتيا د خلکو استازي محمد نواب منګل د دې تورونو په اړه وويل، چې ستونزې په ټول هېواد کې شته، خودوی هر وخت دخپلو موکلينوستونزې اوربدلې دي. د نومورې په خبره، دوی وخت په وخت ولسوالیو ته سفرونه کړي، له خلکو سره يې له نژدې ليدلي، د دوی ستونزې يې ولايت ته رسولې که هلته هوارې شوې نه دي، نو له مرکز سره يې شريکې کړې دي. د پروژو د تړلوپه اړه ده وويل، چې دا حالت په ټول هېواد کې روان دی. نومورې وويل: ((په هېواد کې د بيارغونې يو سکوت روان دی دا زمورې په وجه نه دی او په دې وجه هم نه ده، چې بودیجه ناوخته پاس شوه.)) نواب منګل وويل، چې په تېرو درېيو مياشتو کې ده اودده ملګرو پکتيا ته ځلور ځله سفر کړی ان سرحدي ولسوالیو، پتان، جانيخېلو، احمدخېلو اوځاځي اريوب ته هم تللي دي.

پکتياپه ولسي جرګه کې پنځه ځوکی لري، چې يوه يې د ښځو او پاتې ځلور يې د نارينه وو لپاره دي.

افغانستان د پردیو استخباراتي جګړو ډګر

دویمه برخه

لیکوال: څیړندوی احمدشاه کتوازی

د یوه واقعبین لپاره د دې پر ځای، چې د احساساتو، اخلاقو او یا دودیزو افکارو او رواجونو پر بنسټ پریکړه وکړي، د عقل پر بنسټ پریکړې ورته زیات ارزښت لري. د دوی پر اند واکمن باید عاقلانه کړنې وکړي.

یو هېواد د دې لپاره، چې خپل ځان وژغوري، مجبور او مکلف دی، چې خپل قوت یا ځواکمنتیا وکاروي. د میکس ویبر په اند د هېواد تعریف په دې ډول دی: "په یوه معینه سیمه کې د قانوني فزیکي قوې د استعمال انحصار" ته هېواد ویل کیږي. یعنې یوه هېواد ته په طبیعي توګه دا حق ورکړل شوی، چې د خپلو پولو په چوکاټ کې د ننه خپل ځواک وکاروي او که د خپل امنیت یا ګټو د ساتلو اړتیا ولیدل شي، نو بیا دا ځواک له پولو نه د باندې هم کارول کېدای شي.

په نړیوال نظام کې داسې هېڅ برلاسی ځواک نشته، چې د زور یا قوت د استعمال مخنیوی وکړي، نو ځکه هېوادونه د خپل زیار یا خپل کمک په خپله باندې اعتماد کوي. د دې لپاره، چې خپل امنیت په خپله خوندي کړي او د امنیت د خوندیتوب لپاره اقدامات وکړي، یو هېواد په اتوماتیک ډول د بل هېواد امنیت له خطر سره مخامخوي. دغه حالت یا د نا امنۍ دې حالت ته د امنیت مشکل حالت یا سیکیورټي ډایلیما (د داسې دوو حالاتو څخه د یوه انتخاب، چې یو هم د انسان خوښ نه وي) ویل کېږي.

په دې پراو کې، چې هېوادونه خپلو ملي ګټو او د خپلو پوځي ځواکونو د لا پیاوړتیا او غښتلیتوب په هڅه کې دي او دې ته لومړیتوب ورکوي، په هیڅ یوه هېواد او ولس باندې هم ویسا او اعتماد نه شي کېدای.

افغانان باید دا درک کړي، چې نن دوی له هر څه نه زیات سولې او ثبات ته اړتیا لري، د امنیت خوندیتوب، سوله او ثبات باید د افغانانو لپاره تر هر څه زیات لومړیتوب ولري او د خپل ځواک د زیاتولو هڅه وکړي.

له نړیوالې ټولنې او امریکا نه د مرستو د ترلاسه کولو په جدول کې باید امنیت ته لومړیتوب ورکړل شي او د ځواک موندلو اړتیا باید په دریو سرو امنیتي ارګانونو کې احساس او په دې برخه کې چټک ګامونه واخیستل شي.

هېوادونه د ځواکمنېدو په حال کې دي، نو د امنیت د خوندیتوب لپاره هېوادونه هڅه کوي، څو د نورو هېوادونو په پرتله خپل ځواک پیاوړی او دفاعي سیستم غښتلی کړي. هغه هېوادونه، چې ډېر پرمختللی دفاعي او امنیتي سیستم لري لا هم په دې تکل دي، چې د نورو هېوادونو په پرتله خپل ځواک پیاوړی کړي، څو یې امنیت له ګواښ سره مخامخ نه شي او خپلې ملي ګټې خوندې کړای شي.

همدارنګه د افغانستان ګاونډي هېوادونه لکه پاکستان، چې ډېر ښوزله او د نړیوالو د پورونو پر مټ حکومت چلوي، د بودیجې زیاته سلنه یې دفاع ته ځانګړې کړې. ایران، چې تقریباً ټوله نړۍ یې د اټومي وسلو له جوړولو سره مخالفه ده او د نړۍ د اقتصادی او نورو فشارونو لاندې دی، بیا هم د اټومي وسلو په جوړولو باندې ټینګار کوي ځکه، چې د خپل ژوندي پاتې کېدو او بقا راز په ځواکمن کېدو کې ویني.

افغانستان اوس یوازې د بهرنۍ مرستې پر مټ ځان ژغورلای شي، ځکه، چې تېرو جګړو ترې هر څه اخیستي او دا تشه ډکول اوس لسیزو ته اړتیا لري.

خو د دغه هېواد اوسنۍ واکمنه اداره باید په دې پوه شي، چې د خپلمنځیو سیالیو پر ځای، د هېواد د زیربنا او ادارو په بیارغونه کې هڅې وکړي، او دا هم باید درک کړي، مخکې له هغې، چې دا بهرنۍ مرستې د دودیزه سیاسي ځواک او د ځارګرو لوبو په یو بل ډګر بدلې شي دوی باید دې ته چمتو واوسي څو په خپل هېواد کې د ګاونډیو د سیالیو مخه ډب کړي .که خدای مکړه دغه ډول حالت رامنځ ته شي، نو نه یوازې دا، چې افغانان به اغېزمن کړي بلکې هغه خلک، چې تر دې دمه له اور سره لوبیدل او دا یې نه دي لیدلي، چې سوزیدل څنګه وي، هغوی به هم لو لپه او الونیا شي.

افغان واکمنو کله هم د سیاسي ځواک تاریخ حقیقت درک نه کړ:

په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له نهه کلن شتون نه ورسته، چې د ملیاردونو ډالرو د لګښت دعوه هم کوي، که څه هم څه ناڅه لاس ته راوړنې لري؛ خو د مرستندویه هېوادونو لګښت او فزیکي شتون ته په کتو سره دا په هیڅ شمار دي. باید تر دې دمه د هېرکار شوی وای او د امنیت په برخه کې خو لږ تر لږه باید افغانانو د دې وړتیا پیدا کړې وای څو د خپل هېواد د پولوامنیت یې په خپله ساتلای وای.

نن په داسې حال کې، چې لویدیزوال له افغانستانه د خپلو سرتیرو د وتلو خبرې کوي د دوی د مرستو له امله د افغانستان ملي اردو او نور امنیتي ارګانونه په کوم حالت کې دي، څومره سنبال دي او څومره وړتیا لري،د دغو ارګانونو واک د چا په لاس کې دی او قومي او اتنیکي انډول یې په څه ډول دی؟؟؟ دا داسې پوښتنې دي، چې نړیواله ټولنه یې باید په غور سره ځواب کړي.

په جدي توګه باید د افغانستان د دفاعي سیستم ځواکمنتیا ته پاملرنه وشي او ډېر ژر له ظرفیتونو سره ملي مجهز پوځ ،پولیس او امنیتي ځواک رامنځته شي،، چې د هېواد امنیت په خپل لاس کې واخلي او نور د افغانستان ګاونډي هیوادونه دا جرت ونه کړي، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي. له دې سره به له یوه پلوه د افغانستان د دفاع چارې افغاني شي او له بل لوري به د نړیوالې ټولنې خوله بنده شي، چې په ملیاردونه ډالر د افغانستان د دفاع له پاره لګوي.

وړاندیزونه:

۱) افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له امله مکلف دی،، چې خپل ځواک ډېر اوپیاوړی کړي ؛ځکه، چې د افغانستان ځینې ګاونډي هېوادونه، لکه چین، پاکستان، روسیه او هند اټومي ځواکونه دي او ایران هم نن سبا پر اټومي ځواک بدلیږي، له دې سره په څنګ کې یاد هېوادونه مسلکي فوځي ظرفیتونه، اداري او نورې وړتیاوې هم لري.

۲)دافغانستان د دولت لپاره باید دهېوادامنیت اوخوندیتوب تر هر څه زیات ارزښت او لومړیتوب ولري.

۳) افغانستان، چې یو حساس جیو پولیټیک او جیو ستراټیژیک موقعیت لري باید د یوه ځواکمن او مجهز دفاعي نظام تر څنګ پیاوړي او مسلکي امنیتي ارګانونه ولري.

۳) افغان دولت باید نړیوال په دې قانع کړي، چې افغانستان کولای شي د سیمه ییز ځواک په انډول ساتلو کې فعال رول ولوبوي، که چیرې د دې هېواد د جغرافیوي موقعیت پر بنسټ د دې هېواد سره پوځي او ملکي مرستې وشي.

۴) افغان اردو او امنیتي ځواکونو ته باید د واقعبینې پر بنسټ ولاړ مډرن او د نن ورځې د اړتیاوو پر بنسټ ولاړ درس او روزنه ورکړل شي او د نوې ټیکنالوژۍ سره باید دوی آشنا کړای شي.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز
ماده بیستم: ۴- کمیته بعد از رسیدگی و تشخیص نظرات عضو و یا اعضاء و با توجه به بند ۲ این ماده، نظرات و تشخیص آنها را همراه با پیشنهادات و ارزیابی خود و با درنظر گرفتن موقعیت به دولت عضو مربوط، منتقل خواهد کرد.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com